2024جولای





Center for Prevention Programs and Partnerships



# د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه مخنیوی

ستراتيژي تدوينTVTPد مخنيوي منبع: د ايالتي

## د مطالبو نوملړ

*لنډه کتنه*...2
*د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په موخه د عامې روغتیا آګاهانه کړنلار*...3
*ستراتیژۍ او ورتیاوېTVTP ایالتي*...4
**مخینه**...4
**اساسي اجزاوې**...4
**د اداره کوونکو جوړښتونو جوړول**...5
ټیم جوړونهTVTPد یو...5
د ماموریت، موخو، مقاصدو او مخاطبینو ټاکنه...5
ستراتیژي مسوده جوړونهTVTPد ایالتي...6
د معیارونو تدوین...6
**ستراتیژي د ښوونیز ورکشاپ جوړولTVTPپه ایالتي کچه د**...7
**د چلندي ګواښونو د ارزونې او مدیریت ټیمونه**...7
**یوه څو اړخیزه کړنلار**...8
**د معلوماتو د شریک کولو د میکانېزمونو تعریف**...8
د خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني آزادیو ساتنه...8
د اصطلاحاتو توضېح...9
*منبع: د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د والیانو کړنلار، د والیانو ملي ټولنه*...9
**ټرېنېنګ**...9
**له ملاتړیزو خدمتونو سره نښلول**...9
د همکټو شامل کول...10
*ستراتیژي بېلګېTVTPد ایالتي*...11
**2023له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د نیویارک ایالت ستراتیژي**...11
**12 له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د ایلینوس ایالت ستراتیژي،  له ورکتون – ۱۲ ټولګي او لوړو زده کړو پورې**
**2022 له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د هاوایي ایالت ستراتیژي**...12
*پایله*...12
*اضافي منابع*...13

## لنډه کتنه

د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په موخه د ایالتي ستراتیژي (د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په موخه د ایالتي ستراتیژي ( TVTP ) اصلي موخه دا ده چې عامه امنیت خوندي او اړوند ایالت د هدفمند ستراتیژۍ تدوین او د هغو تطبیق د TVTPتاوتریخوالي او ترهګرۍ له احتمالي ګواښونو څخه وساتي. په ایالتي کچه باندې د ځانګړي او فعال ګواښونکي چاپېریال اړوند د ایالتي منابعو د همغږي کولو په موخه یوه اغېزمنه کړنلار ده؛ همدارنګه دا د ګواښونو څخه د مخنیوي د کلتور د ترویج په برخه کې د یو بنسټیز ګام څرګندونکې ده.

ستراتیژي د چارو موخه ټېز او په غوره توګه تنظیم شوې پلان دی. هغه پیاوړې ستراتیژي چې د منابعو د تخصیص په TVTP موخه واضح لورى څرګندوي، لومړیتوبونه بیانوي او همدارنګه د همغږۍ هغه پړاوونه ټاکي چې باید د مسودې جوړونې او تطبیق پر مهال اجرا شي. دغه ستراتیژۍ باید د سازګارۍ، انعطاف منلو او دوامدارې ارزونې ځانګړنې په ځان کې ولري چې دا بیا په خپل نوبت سره په شرایطو کې د بدلون، نه وړاندوینه شوو موانعو یا هم د توپیر لرونکو ترلاسه شوو لیدلورو پر مهال انطباق ته لار هواروي.

په دغه لارښود کې وړاندې شوې معلومات د کورني امنیت د وزارت (DHS) د مخنیوي د پروګرامونو او همکاریو د مرکز (CP3) او د بېلابېلو نورو ایالتونو د TVTP ستراتیژیو د جوړولو پر مهال د ګډو همکاریو څخه سرچینه اخلي.
ته د اړوندې NGAسربېره پر دې دغه ستراتیژي د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په برخه کې د والیانو ملي ټولنې مالي تخصیص TVTP د کورني امنیت له وزارت څخه د( NGA)  ژکال کې 2017جامعې کړنلارې څخه هم ترسیم شوې ده. په ترلاسه کړ څو په ایالتي کچه د پالیسۍ جوړونې اکاډمۍ جوړې او تخنیکي منابع رامنځته کړي څو په ایالتي کچه د مخنیوي د پروګرامونو په برخه کې د همغږۍ په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. له دغو څخه ترلاسه شوې ټولګه او معلومات یا په ایالتونو ته د اړوندې ستراتیژۍ د جوړولو په برخه کې عملي لارښوونې NGA, 2024 ([toolkit and information](toolkit and information))انګریزي وړاندې کوي او د هغو د پیل ځای ښیي چې باید له کومه ځایه یې پیل وکړي.

ستراتیژیو بېلګې او همدارنګه TVTP لارښوونې تشریح کوي څو وکولای شي د بشپړو شوو ایالتي NGAد مخنیوي دغه منبع د د چلندي ګواښ د ارزونې او مدیریت د ټیمونو، ښوونیزو فرصتونو او د معلوماتو د شریک کولو د میکانېزمونو په ګډون اضافي سره په اړیکې له دغې منبع څخه د خپل ایالت د مشخصو اړتیاوو CP3ملاحظات په ځان کې راونغاړي. ایالتونه کولای شي له ستراتیژۍ د جوړولو، تصحیح او اجرا په برخه کې ګټنه وکړي.TVTPسره په تناسب د

عدم مسئولیت: په ایالتي کچه د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخینوي په موخه د ستراتیژۍ جوړونې دغه منبع د مخنیوي د پروګرامونو او همکاریو د مرکز د څېړنې لنډیز دی. په دغو کې د غیر فدرال منابعو شامل کول د متحده ایالاتو د کورني امنیت د وزارت او یا هم فدرال حکومت له خوا د غیر فدرال بنسټونو او یا هم د هغو د محتوا د رسمیت پېژندنې په معنی نه دی.

# د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په موخه د عامې روغتیا آګاهانه کړنلارې

د خصوصي حریم، مدني حقونو، ( CP3) ته اړوند د مخنیوي د پروګرامونو او همکاریو مرکز (DHS)د کورني امنیت وزارت مدني آزادیو او نورو ټولو اجرا وړ قوانینو د خوندیتوب په رعایت کولو سره د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د پر مټ هغه بشپړه ټولن شموله کړنلار رانغاړي CP3مخنیوي په برخه کې د دغه وزارت د وړتیاوو ملاتړ کوي. دغه وزارت د څو وکولای شي له تاوتریخوالي څخه د ډکې هر ډول سخت دریځۍ، هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ مخه ونیسي. په دغه کې د ټولو حکومتي، خصوصي او غیر دولتي سازمانونو په کچه د باور پیاوړتیا، د مشارکت رامنځته کول او د همکاریو وده شاملېږي.

DHS د مخنیوي اړوند د خپل موډل په تدوین کولو کې د [ناروغیو د کنټرول د مرکز] (CDC, 2021) په واسطه د مشخص شوي تاوتریخوالي د مخنیوي له اصولو ګټنه کوي.

**ایالتي ستراتیژي د TVTP]: یوه مخنیوي د محدودې د پراختیا په موخه د عامې روغتیا تر ټولو غوره کړنلارې ترویج کوي.**

په دغو کې تر ټولو مهم اصل په سیمه ئیزه توګه رهبري کېدونې د مخنیوي هڅې دي چې په ټولنه کې همګتې اړخونه له افرادو سره وصل کوي څو د جرمې یا له تاوتریخوالي دغه اصل DHSڅخه د ډکو چارو له ترسره کولو وړاندې له هغو سره مرسته وکړي. ته په لومړیتوب ورکولو سره د ایالتي او سیمه ئیزو بنسټونو ملاتړ کوي څو د عامه روغتیا د آګاهانه کړنلارې له مخې د مخنیوي هڅې تدوین او پیاوړې کړي.

ستراتیژۍ موخه دا ده چې د افرادو له خوا له تاوتریخوالو څخه د ډکو چارو TVTPد عامې روغتیا د کړنلارې پر بنسټ د ایالتي له ترسره کولو وړاندې ګواښونکي عوامل راکم او د نامطلوبو پایلو د کمښت په موخه محافظتي فکتورونه پیاوړي کړي. دغه کړنلار د ټولو خلکو په ټولیزې روغتیا، خوندیتوب او هوسایني ټینګار لري.

TVTPپه څو اړخیزو او د ټولنې پر بنسټ هڅو باندې د عامه خوندیتوب له ټینګار کوونکي کړنلارې څخه ګټنه کوونکې یوه ستراتیژي لاندې موارد ترسره کوي:

- د مخنیوي د پروګرامونو یوه شبکه جوړوي څو مخه نیونکو او اوږد مهاله هڅو ته دوام ورکړي او همدارنګه د همدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ موارد راکم کړي.
- د مخنیوي د نوښتونو د پراختیا په موخه د عامه خوندیتوب له تر ټولو غوره کړنلارو ملاتړ کوي.
- د افرادو او ټولنو له عامه مصونیت او روغتیا څخه ساتنه کوي.
- محافظتي عوامل پیاوړي کوي او همدارنګه د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ د ګواښونو د کمښت په موخه ایالتي وړتیاوې زیاتوي.
- اغېزمنې لارښوونې، د حکومتولۍ کړنلارې او جوړښتونه وړاندې کوي څو د تاوتریخوالي ځانګړې انځور وړاندې کړای شي او دولتي منابع په سمه توګه تنظیم کړي.
- په دغو کې د عامه خوندیتوب، زده کړو، عدالت، د قانون د تطبیق، روغتیايي پالنو، ټولنیزو خدمتونو او حکومت په ګډون د بېلابېلو سکتورونو ژمنتیا، همکارۍ او رهبري شاملېږي..

تعریفونه


**هدفمند تاوتریخوالی:** هدفمند تاوتریخوالی د هغه فعالیت په توګه تعریف کوي چې په هغو کې د انسان د ژوندانه CP3ګواښوونکې ټولې هغه چارې شاملېږي چې د متحده ایالاتو او یا هم د هر ایالت له جزایي قوانینو سره په ټکر کې وي او د پلان جوړونې درجه او د فرد (افرادو) په ګډون له وړاندې ټاکل شوې موخه ولري چې دا بیا په خپل نوبت سره د واقعي یا د درک شوو هویتي ځانګړنو او یا هم ډله ئیزې اړوندتیا پر بنسټ دي.

- **هدفمند تاوتریخوالی:** هدفمند تاوتریخوالی د هغه فعالیت په توګه تعریف کوي چې په هغو کې د انسان CP3د ژوندانه ګواښوونکې ټولې هغه چارې شاملېږي چې د متحده ایالاتو او یا هم د هر ایالت له جزایي قوانینو سره په ټکر کې وي او د پلان جوړونې درجه او د فرد (افرادو) په ګډون له وړاندې ټاکل شوې موخه ولري چې دا بیا په خپل نوبت سره د واقعي یا د درک شوو هویتي ځانګړنو او یا هم ډله ئیزې اړوندتیا پر بنسټ دي.

- داسې څرګنده شي چې موخه یې د هدف (اهدافو) سربېره په لویه کچه وګړو کې ویره اچول، د هغوی مجبور کول وي او یا هم د هغو د ترسره کوونکې لپاره تبلیغ او یا د هغه د شکایاتو (غوښتنو) اورېدنه وي؛ همدارنګه
- د متحده ایالاتو په قضایي حوزه کې دننه وشي او د شخصي تاوتریخوالي، د سړک پر سر جنجالونو، د مجرمینو باندېونو ته د اړوندو جرمونو، د سازمان یافته جرمي ډلو له خوا د ترسره شوو چارو  او یا هم مالي انګېزه لرونکو جنایاتو څخه جلا وي.

# ستراتیژۍ او وړتیاوېTVTPایالتي

## مخینه




ایالتونه د منابعو د شریک کولو، د سیمه ئیزو او ملي پروګرامونو له لارې د اړیکو د پیاوړتیا، د ټرېنېنګونو د وړاندې کولو او همدارنګه په سیمه ئیزو پروګرامونو کې د تخنیکي مرستو پر مټ چې ورته اړتیا ده، د هیله من کوونکو مداخلاتو او ملاتړ په برخه کې مهم رول لوبوي. د ایالت په مشرۍ کړنلار د سیمه ئیزو ایالتي بنسټونو، غیر انتفاعي بنسټونو او TVTPخصوصي سکتور ترمنځ همغږي هدایت کوي. یوه ایالتي ستراتیژي په هره برخه کې د چارو او مسئولیتونو په ټاکلو سره د همګټو اړخونو ونډه اخیستنه ترویج او همدارنګه جمعي اقدام هڅوي.

## اساسي اجزاوې

 ستراتیژي په اصلي اجزاوو کې د اداره کوونکو جوړښتونو TVTPد ایالتي رامنځته کول، د چلندي ګواښ د ارزونې او مدیریت ټیمونه (BTAMs)، د معلوماتو د شریک کولو د مېکانېزمونو تعریف، ټرېنېنګ او د ملاتړ وړاندې کوونکو سره اړیکه شاملېږي. دغه هره برخه د لا زیاتو جزیاتو سره په راتلونکو برخو کې تشریح شوې ده.

## د اداره کوونکو جوړښتونو جوړول

ستراتیژي باید د داسې اداره کوونکو جوړښتونو رامنځته کېدنه ترویج کړي چې یاده ستراتیژي تعریف او TVTPیوه ایالتي خوندي کړي. په یو اغېزمن حکومتي جوړښت کې باید د کلیدي همکټو استازي شامل وي او د سازمانونو ترمنځ باید د همغږۍ او همکارۍ د میکانېزم پر بنسټ عمل وکړي. دغه جوړښتونه د دولتي سازمانونو، سیمه ئیزو حکومتونو او ټولنیزو په هڅو TVTPبنسټونو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ د میکانېزم د وړاندې کوونکو په توګه د زیات اهمیت لرونکي دي. دا د باندې په ټولیز تمرکز کولای شي د پالیسۍ د جهت ټاکلو او د منابعو د تخصیص په برخه کې ستراتیژیکې پرېکړې وکړي.

جوړښتونو د رامنځته کولو پر مهال د ځواب ویونکې رهبرۍ او د مخنیوي د هڅو د معیاري کولو په موخه له ایالتي کړنلارو څخه کار واخلې. په ایډیال حالت کې په دغه چاره کې د یوې څو اړخیزې ډلې ټاکنه او ګمارنه او همدارنګه په کې د دولتي او پروګرام د اساسي عناصرو د TVTPخصوصي همکټو اړخونو څو اړخیزه قضايي ډله شاملېږي چې د ایالتي سازمانونو له خوا د تدوین په موخه اداره کېږي.

### د TVTPټیم جوړونه

ستراتیژۍ په جوړولو کې لومړنی پړاو د یو اداره کوونکي جوړښت (کاري ډله، د رهبرۍ کمېټه، مشورتي کمېټه یا کاري TVTPد کولای شي د اداره کوونکي جوړښت په جوړونه کې د مرستې په موخه د ایالتي رهبرۍ او د تنظیم CP3قوه) جوړول دي. کوونکو سازمانونو په پراختیا کې مرسته وکړي. دویم پړاو بیا د رهبرۍ له خوا د ایالتي سازمانونو پېژندنه او د هغوی د دندو او مسئولیتونو ټاکنه ده، یعنې دا چې کوم بنسټ یا کوم ایالتي بنسټ د ادارې، اړیکو، ثبت کولو او همدارنګه د لوژستیک له جوړېدو او د دندو له تعریف څخه له ځنډ پرته باید ایالت په لنډ او اوږد مهال کې د TVTPمسئولیت پر غاړه ولري. د د هڅو د تامین منابع وټاکي.TVTP

### د ماموریت، موخو، مقاصدو او مخاطبینو ټاکنه

د اداره کوونکي جوړښت له جوړېدو څخه له ځنډ پرته باید ایالت په اغېزمنه توګه د ستراتیژۍ د تدوین په موخه خپل ماموریت، موخې، مقاصد او مخاطبین مشخص کړي. د داسې یو نوملړ تدوین او جوړل چې د ټولنې انعطاف منل او همدارنګه په دواړو ایالتي او سیمه ئیزه کچه د موجود تاوتریخوالي د مخنیوي منابع ترسیم کړي، د ځانګړي اهمیت لرونکي دی. دغه منابع هغه محافظتي فکتورونه پیاوړي کوي چې د تاوتریخوالي ګواښ له منځه وړي او کېدلای شي د معلوماتو په ستراتیژیو د نورو مقاصدو پر مټ لا پیاوړي شي. دغه منابع د کلیدي مخاطبینو په TVTPشریک کولو کې د پانګونې په څېر د ټاکنه کې هم مرسته کوي چې باید په ستراتیژۍ کې د شریکانو په توګه ځای پر ځای شي.

اداره کوونکی ټیم باید د ټولنې او افرادو پر وړاندې د ګواښونو هغه ځانګړي فکټورونه پیدا او هغه و ارزوي کوم چې ایالتي ستراتیژي غواړي هغو ته رسیدګي وکړي. د ټولنې پر وړاندې د ګواښونو په فکټورونو کې کېدای شي توپیر، اقتصادي فشار او دیموګرافیک (وګړیز) تغیرات شامل وي، په داسې حال کې چې په فردي فکټورونو کې بیا ټولنیزه انزوا، د رواني روغتیا سرچینو ته نه لاسرسی، ټیټ اقتصادي لیدلوری او یا هم د ځایګي او اهمیت د له لاسه ورکولو احساس شامل کېدلای شي. په فردي او ټولنیزه کچه باندې د ګواښونکو فکټورونو کموونکی پروګرام بېلابېلې موخې لري، د شریکانو بېلابېلو ټولګو ته اړتیا لري او کېدای شي په ایالتي کچه له یوې برخې څخه تر بلې توپیر ولري. په ټول ایالت کې د ارزونو د ترسره کولو په موخه له اړوندو بنسټونو او متخصصینو سره همکاري او همدارنګه د هدفمند تاوتریخوالي د کمښت په موخه په ایالتي کچه په بېلابېلو جغرافیایي برخو کې د اړتیاوو ارزونه اړینه ده.

هر هغه مهال چې ماموریت، موخې او مقاصد څرګند شول بیا نو باید د ستراتیژۍ پارامترونه او محدوده په پام کې ونیول شي. د پارامترونو او محدودې د ټاکلو په موخه لارښوونکې پوښتنې په لاندې ډول دي:

- سیمه ئیز او ایالتي حکومتونه په کومو ځایونو کې کولای شي مرسته وړاندې کړي؟
- په کومو ځایونو کې باید له مداخلې ډډه وشي؟
- کومو مسایلو یا موضوعاتو ته د غیر دولتي بنسټونو یا د ټولنې د رهبرانو له خوا رسیدګي کېدلای شي؟
- خلک کوم مهال او څه ډول له سیمه ئیز حکومت څخه ملاتړ موندلی شي؟

- پخوانیو پروګرامونو په ټولنیزو اړیکو کومې اغېزې لرلې دي؟
- نوې ستراتیژۍ څه ډول د عامې روغتیا، کورني امنیت، عامه خوندیتوب او یا هم د تاوتریخوالو د کم کوونکو ستراتیژیو په څېر د موجودو ستراتیژیو سره توپیر لري او یا هم د هغو بشپړونکې دي؟

## ستراتيژي مسوده جوړونهTVTPد ایالتي

د ایالتي TVTP ستراتیژي د تدوین وروستی پړاو د یو پروګرام د جوړولو په موخه د راغونډېدو شوو معلوماتو تلفیق او ترکیب دی. اړوند ټیم باید د مسودې جوړونې پروسه د والي د دفتر په څېر له ایالتي رهبرۍ سره همغږې کړي. له تصویب کېدن وروسته ستراتیژي کېدلای شي د اجرا په موخه په ټول ایالت کې خپره شي. ایالتونه باید جوړه شوې ستراتیژي د خپلو هڅو د شریک کولو او همدارنګه په کار کې د روڼتیا په موخه په عامه بڼه خپره کړي.

## د معیارونو تدوین

ستراتیژۍ TVTPایالتي حکومتونه د خپلې ستراتیژۍ د ارزونې په موخه عملي معیارونو او جامعې پایلې ته اړتیا لري. د ایالتي ټیم باید هغه همګټې چې کولای شي د ستراتیژۍ د تدوین او اجرا پر مهال د ارزونې د اداني په تدوین کې مرسته وکړي وټاکي. د بهیر له پیل څخه د پروګرام د ارزونې په پام کې نیولو سره ایالت باید د کلیدي عملکرد هغه شاخصونه وټاکي چې د ارزیابي د ترسره کولو او اغېز لپاره اړین دي او د وخت په تېرېدو سره دوامدارې ودې ته لار برابروي. د عالي زده کړو د یو بنسټ په څېر ) تخصص (د بېلګې په توګه د ارزونې ابزار، موضوع M&Eیو بې پلوه دریم ګړی کولای شي د ایالت لپاره د سنجش او ارزونې ( ټیم باید ډاډمن شي چې دریم ګړی ارزونه کوونکی له عملي اقداماتو څخه کار TVTPته اړوند کارپوهان، مهال) وړاندې کړي. د اخلې او له پلویتوب څخه د مخنیوي په موخه په اجرا کې له ونډې اخیستو ډډه کوي.

(2022) د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه د جامعې پلان جوړونې د پرمختګ په موخه د NGA
2024 ، NGA) (key performance indicators)عملکرد کلیدي شاخصونه
ستراتیژۍ د تدوین پر مهال په TVTP رامنځته کړل. په دغو کې نمونوي نتیجه، پایله او د اغېز سنجش شامل کېږي چې د یوې ټیم باید دغه منابع د تدوین په لومړني پړاو TVTPټول هېواد کې په بېلابېلو پروګرامونو او فعالیتونو کې استفاده کېدلای شي. کې د زده کړو څخه د ملاتړ او د ستراتیژۍ د ژوندانه د څرخې د غوره والي په موخه شامل کړي.

**ستراتيژۍ د ښوونيز ورکشاپ جوړولTVTPپه ايالتي کچه د**

د هڅو د زياتوالي سره د مرستې په موخه تشې، فرصتونه او پروګرامونه TVTP ښوونيز ورکشاپ د TVTPپه ايالتي کچه د توضيح کوي. دغه ښوونيز ورکشاپ ونډه والو ته د منابعو او ستراتيژيو د ارزونې فرصت برابروي. د دغه ورکشاپ په موخو کې د مسودې جوړونې د يو برلاسي ټيم پېژندنه او د راتلونکو مقاصدو لپاره د نيټې ټاکنه شاملېږي. ګډون کوونکي کېدلای شي لاندې کسان وي:

- د کورني امنيت سلاکار
- د چلندي روغتيا، عامې روغتيا او ټولنيزو خدمتونو ايالتي ادارې
- په بحران کې مداخله کوونکي پروګرامونه، ټيليفوني کرښې او نور
- زده کړې
- د قانون نافذ کوونکي
- د ښوونځيو د مصونيت مراکز
- محکمې (قضايه قوه، د ماشومانو او نوو ځوانانو قضايي سازمانونه)
- غيردولتي سازمانونه، اړوندې ډلې او ټولنيز مشران

ټيم بايد د لاندې مواردو د ټاکلو په موخه له ټولنو او همکټو اړخونو څخه د نظر ترلاسه کولو په برخه کې د ايالت TVTP لپاره تر ټولو غوره TVTP ستراتيژۍ يو ښوونيز ورکشاپ جوړ کړي 1) په ايالتي او سيمه ئيزو هڅو کې د TVTPپه کچه د کړنلارې او 2) د مخنيوي د موجودو هڅو د تلفيق او ترکيب ډول. د ستراتيژۍ په دغه ښوونيز ورکشاپ کې بايد د ديني او مذهبي ټولنو او همدارنګه د لوړو زده کړو، عامې روغتيا او د قانون د نافذ کوونکو برخو د کارپوهانو په ګډون د ټول ايالت TVTPله استازو مشوره واخيستل شي، آن له هغو افرادو او سازمانونو څخه هم مشوره واخيستل شي چې کېدای شي له له بهرنيو کارپوهانو TVTPسره مخالفت وکړي. د ستراتيژۍ ښوونيز ورکشاپ بايد څو ژبنيو ارتباطاتو ته لار برابره او د TVTP کولای شي د څو اړخيزو يا څو ځانګيزو شريکانو له لارې د CP3څخه د عواقبو يا فيډبک غوښتنه وکړي. ورکشاپونو له کوربه ايالتونو ملاتړ وکړي.

### د چلندي ګواښونو د ارزونې او مديريت ټيمونه




ټيم بايد د TVTP د اداره کونکي جوړښت د جوړولو سره په خوا کې د ستراتيژۍ اصلي اجزاوې وټاکي. د چلندي ګواښ د ارزونې او مديريت ستراتيژيو کې TVTP) د روزل شوو او تمويل شوو ټيمونو ادغام په څو BTAM( ټيمونه د بالقوه ګواښونو د پېژندنې، BTAMيو له مشترکو ځانګړنو څخه ده. ارزونې او مديريت په موخه مخه نيونکي او حفاظتي اقدامات ترسره کوي. که چېرې يو کس له ځانه څخه ګواښوونکي يا اندېښمن کوونکي چلندونه وښيي د ګواښونو د ارزونې او مديريت ټيم د اړوند فرد له خوا د زيان اړونکي ګواښ د رامنځته کېدو او يا نه رامنځته کېدو په اړه معلومات راغونډوي او وروسته د هغو د مديريت په موخه مناسبه مداخله، منابع او ملاتړيز له موډلونو څخه په ښوونځيو، کار ځايونو BTAMسيستمونه پيدا کوي. د او ټولنو کې ګټنه کېږي.

ټيمونه د بېلابېلو مسلکونو او ځانګو له استازو څخه په جوړېدو تر BTAM ټولو ډېر اغېزمن دي. په دغو کې کېدای شي مديران، د چلندي او ټولنيزې روغتيا د خدمتونو وړاندې کوونکي، مذهبي مشران، روغتيايي کارکوونکي او د قانون د تنفيذ کارپوهان شامل وي چې د خطر او ګواښ د ارزونې په برخه کې روزل شوي دي. ايالتونو، ټولنو، کار ځايونو او ښوونځيو د عامه خونديتوب په پلان جوړونه کې د ګواښونو د ارزونې او د هغو د مديريت د ټيمونه کولای شي BTAM ايالتي ټيم بايد دا ومومي چې څه ډول TVTPوړتياوو د ادغام لپاره ميکانېزمونه رامنځته کړي دي. د CP3 ټيمونه تمويل کړي. BTAMد ستراتيژۍ له موخو او مقاصدو ملاتړ وکړي او د ټرېننګ سربېره د ارزونې او مديريت

کولای شي په ټول ایالت کې د تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په هر اړخیزو هڅو کې د څېړنو د شریک کولو، د ښوونیزو فرصتونو او د مسلکي شبکو د غوره کړنلارو د وړاندې کولو پر مټ مرسته وکړي.

**یوه څو اړخیزه کړنلار**

یو اساسي اصل د هغو ټولن محوره کړنلار ده. یو څو اړخیز ټیم کولای شي دغه کړنلارې ته تجسم ورکړي؛ دBTAM څکه چې هغوی د هدفمند تاوتریخوالي پېچلي موضوع ته د رسیدګي په برخه کې د یوې ټولنې ټولیز مسئولیت له بېلګې سره وړاندې کوي. دغه ټیمونه دا تائید کوي چې له تاوتریخوالي څخه مخنیوی له فردي تخصص ور هاخوا مشترکو هڅو ته اړتیا لري. هغوی د بېلابېلو برخو ترمنځ تشه ډکوي او د یوې خوندي او انعطاف منونکې ټولنې د رامنځته کولو په موخه پوهه، منابع او اړین لیدلوري یوځای کوي. د قانون د نافذ کوونکو، حکومتي چارواکو، د رواني روغتیا د کارپوهانو، د مخدره توکو څخه د ناوړه ګټې د مشاورینو، مربیانو، کار برابرونکو، قاضیانو، د مشروطې آزادۍ د مامورینو او ټولنیزو بنسټونو په ګډون د ګڼ شمېر همګټو په دخیل کولو سره یو خوندي چاپېریال برابروي. دغه ټیمونه د افرادو او ټولنو د خوندیتوب په برخه کې د همکارۍ، همغږۍ او مشترکې ژمنې پر مټ د تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په برخه کې تر ټولو پیاوړې قوه بلل کېږي.

## د معلوماتو د شریک کولو د میکانېزمونو تعریف

څو اړخیز ماهیت دې ته اړتیا لري چې معلومات باید د دولتي او خصوصي سکتورونو، په ایالتي کچه ادارو او د TVTPد بېلابېلو ځانګو له کارپوهانو سره شریک کړای شي. په مسلکي اصطلاحاتو کې د توپیرونو، بېلابېلو کلتوري ارزښتونو او قوانینو د ټیمونه باید د خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني آزادیو TVTPشتون له امله چې د معلوماتو شریک کول محدود کوي، د ستراتیژۍ څخه د ملاتړ لپاره TVTPد ساتلو په خوا کې د معلوماتو د شریک کولو داسې میکانېزمونه جوړ کړي چې د ایالتي طراحي شوي وي.

د بېلګې په توګه، د ښار یا کونټي په کچه باندې د چلندي ګواښ د ارزونې او مدیریت ټیمونه د ښوونځیو، د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کوونکو، د کورنۍ د غړو، کلنیکي کارپوهانو، کار ورکوونکو او یا هم د ټولنې پر بنسټ نورو سازمانونو په همکارۍ د معلوماتو د ترلاسه کولو، شریک کولو او د هغو د ساتنې په موخه کړنلارې ته اړتیا لري. کلنیکي کارپوهان چې ارجاع مني، په داسې حالت کې چې احساس وکړي له هدفمند تاوتریخوالي ډک یو عمل کېدای شي ډېر ژر ترسره شي، باید وپوهېږي چې کوم مهال او څه ډول دغه موضوع د عامه خوندیتوب له کارپوهانو سره شریکه کړي. د مشروطې آزادۍ یو مامور کېدای شي اړتیا ولري د خدمتونو له وړاندې کوونکو یا کار برابر کوونکو سره یو لړ معلومات شریک کړي څو په ټولنه کې د افرادو د ادغام او اصلاح زمینه برابره کړي. د مخنیوي پروګرامونه هم باید وکولای شي تر ټولو غوره کړنلارې او اخیستل شوي درسونه په پراخه توګه شریک کړي څو د خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني ازادیو د خوندیتوب په خوا کې د اغېزمنو پروګرامونو له تطبیق ډاډ ترلاسه شي.

### د خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني آزادیو ساتنه

مدني حقونه، مدني آزادۍ او د خصوصي حریم ساتنه د هرې TVTPستراتیژۍ په **TVTP** لومړۍ کرښه کې ځای لري.

) ساتنه باید د هرې P/CRCL د خصوصي حریم، مدني حقونو او مدني آزادیو ( ټیم باید ډاډمن شي چې TVTP ستراتیژۍ په لومړۍ کرښه کې ځای ولري. TVTP ستراتیژۍ یې په فعالانه توګه د پالیسیو او د خوندیتابه د کړنلارو پر مټ له ساتنه کوي او د هغو ترویج ته کار کوي. دغه ټیم باید د والیانو د P/CRCL حقوقي او مشورتي همکار له دفتر سره همکاري ولري، په دغو کې د فیوژن سیمه ئیزو مراکزو د خصوصي حریم او پالیسیو د برخې مامورین هم شامل دي پروګرامونو کې د شاملو سازمانونو په پالیسو او پروګرامونو کې د ټول شموله خوندیتوب په موخه همکاري TVTPڅو په وکړي. دغه همکاري باید د هر ډول اندېښنې (لکه د خصوصي حریم ساتنه، د قانوني تشریفاتو پړاوونه، د قوانینو رعایت یا د معلوماتو د خوندیتوب کړنلارې) لپاره حل لارې وړاندې کړي.

په ټولو فعالیتونو کې روڼتیا زیاتوالی ولري، دغه چاره کېدای TVTP څخه د ساتنې یوه کلیدي برخه هم دا ده چې د P/CRCLله ټیمونه)، په BTAMشي د داسې چارو لکه د غونډو د ثبت او نشر، د مخنیوي او مشارکت د پروګرامونو (د بېلګې په توګه پالیسۍ د جوړولو، داسې یوې ویب پاڼې د جوړولو چې د ایالت فعالیتونو، کارول P/CRCLایالتي- یا سازماني کچه باندې د شوې منابع، ونډه لرونکې بنسټونه او سازمانونه او همدارنګه موجود خوندیتوب توضېح کوي تحقق ومومي. د ټرېننګ مواد، د معلوماتو د شریک کولو کړنلارې او د ارزونې ابزار هم کېدلای شي د عامه وګړو لاسرسي ور وګرځول شي څو خپلواک کارپوهان هم وکولای شي په هغو بیاکتنه وکړي.

ستراتیژي ټینګار کوي چې د عامه روغتیا په TVTP سرېېره پر دې ایالتي یوه څو اړخیزه کړنلار کې باید د روغتیا، چلندي روغتیا او زده کړو شریکان )، د HIPAAهم د روغتیايي بیمې د ځواب ویلو او د لېږد د وړتیا د قانون ( ) او همدارنګه FERPAکورنۍ د ښوونیزو حقونو او خصوصي حریم ( خصوصي حریم ته د اړوندو فدرال، ایالتي او سیمه ئیزو قوانینو په څېر د TVTP دواړه د FERPA او HIPAAخصوصي حریم ساتنې ته درناوی ولري. د دغې ستراتیژۍ له موخې سره په مطابقت د نړدې واقع کېدونو ګواښونو او د عامه خوندیتوب د اندېښنو په برخه کې یو لړ معافیتونه په ځان کې نغاړي.

> ستراتیژي ټینګار کوي چې د عامې **TVTP**ایالتي روغتیا په یوه څو اړخیزه کړنلار کې د روغتیا، چلندي روغتیا او زده کړو د برخې شریکان هم باید د خصوصي حریم خوندیتوب ته درناوی وکړي.

## د اصطلاحاتو توضېح

د یوې ایالتي TVTP ستراتیژۍ د جوړولو پر مهال د هغو اصطلاحاتو تعریف چې کېدلای شي په نورو ځانګو کې توپیر لرونکې معناوې ولري اړین دی. د TVTP ټیم باید موجود قوانین او پالیسۍ چې کېدای شي له وړاندې څخه یې یو لړ تعریفونه وړاندې کړي په پام کې ونیسي، په دغو کې د فدرال او ایالتي قوانینو له مخې د ترهګرۍ او کرکه پاروونکو جرمونو بیا کتنه شاملېږي. د مشترکو کلماتو یا اصطلاحاتو له لارې له TVTP ستراتیژۍ څخه مشترک درک په ډاډمنه توګه د چارو د یووالي او عامه پیغام لېږنې په برخه کې مرسته کوي.

**د څو اړخیزو ټیمونو د تعریف په موخه دوډ اصطلاحات**

- غیر مجرمانه
- پیلنی ، ابتدايي، ثانوي او دریمي مخنیوی
- د محاکمې په اصولو کې عدالت
- د ګواښونو ارزونه
- له تاوتریخوالي ډکه سخت دریځي
- له تاوتریخوالی مخنیوی
- د کورني تاوتریخوالي سخت دریځي
- کرکه پارونکي جرایم
- په کور دننه ترهګري
- آیډیالوژي
- ممانعت
- مداخله
- رواني روغتیا
- رواني ناروغي
- د ټولنې او پولیسو همکاري
- د ټولنې انعطاف منل
- له ترهګرۍ سره مبارزه
- د سخت دریځۍ ریښه له منځه وړل
- د اړیکو قطع کول
- د عامه بسیج لغو

*منبع: د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د والیانو کړنلار، د والیانو ملي ټولنه*

## ټرېننګ

ستراتیژي بېلابېلو مسلکونو ته د خپلو ټرېننګونو د پراختیا فرصتونه وړاندې کوي، د بېلګې په توګه د قانون نافذ TVTPایالتي سره د مخاطبینو د بلدتیا بېلابېلو درجو ته TVTPکوونکو، ارواه پوهانو، ټولنیزو کارکوونکو او د ۹۱۱ شمېرې کارکوونکو ته. له ټیمونو لپاره د ګواښ د لرلید او BTAM سره مشوره ده. د CP3په پام د ټرېننګ د اړوندتیا د احتمال د ارزونې لومړنۍ پړاو له تخصصي ټرېننګ په اړه د فدرال ټرېننګ، د ښوونځي د مصونیتي پروګرامونو یا هم د فعالو ډزو کولو څخه د مخنیوي له لارې د ایالتي او سیمه ئیزو شریکانو څخه د ملاتړ په موخه ګڼ شمېر ټاکنې شتون لري. ورته مهال ایالتونه کولای شي هغه ایالتي یا سیمه ئیز ټرېننګونه په پام کې ونیسي چې د کار د پیاوړتیا په موخه یې لاسرسي ور دي د بېلګې په توګه خصوصي سکتور ته اطلاع رسونه، د ځان وژنې یا د عاطفي شریک له تاوتریخوالي څخه د مخنیوي ټرېننګ او یا هم د لومړنیو ځواب

ټیم د غړو ترمنځ د پوهې او ګډ درک په رامنځته TVTPورکوونکو په توګه په بحران کې د مداخلې ټرېنېنګ. دغه ټرېنېنګونه د ټیم سره مرسته وکړي څو هغه علمي تشې وموي چې کېدای شي TVTPکولو کې مرسته کوي. همدارنګه کولای شي له له ایالتونو څخه د ملاتړ په برخه کې غوره ځانګړې لري څکه چې کولای شي د هغو CP3سپارښت شوي ملاتړ ته اړتیا ولري. ځانګړې شوونیزې اړتیاوې په ګوته کړي.

تر ملاتړ لاندې فدرال منابع عبارت دي له: DHSد شوونیزو فرصتونو او اضافي معلوماتو د موندلو په موخه د

- **د ټولنې د بیدارۍ توجیهي غونډې** ټولنې د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي د څرنګوالي په برخه کې روزي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.dhs.gov/cp3 ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ او یا هم د یوې توجیهي غونډې د غوښتنې په موخه CP3Field@hq.dhs.gov ته برېښنالیک ولېږئ.
- **د بېړنۍ حالت او فعالو ډزو کولو د حالاتو پر مهال د مدیریت ټرېنېنګونه،** افراد، ښوونځي، کاري سیمې او ټولنې په بېړنیو حالاتو کې د پلان جوړونې د ډول او د چلندي شاخصونو د پېژندنې، د عملي پلان د ترتیب او د ډزو د یوې فعالې پېښې څخه د چټکې رغېدنې په برخه کې چمتو کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.training.fema.gov او www.cisa.gov/active-shooter-preparedness وېب پاڼو ته مراجعه وکړئ.
- **د ګواښونو د ارزونې ملي مرکز** د ګواښ د ارزونې او د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي ټرېنېنګ د قانون ایالتي او سیمه ئیزو تنفیذ کوونکو، ښوونځیو، پوهنتونونو، ... ته وړاندې کوي. کار ځایونه او نور سازمانونه د عامه خوندیتوب مسئولیتونه لري. د خپلې سیمې د کورنۍ امنیت له ستراتیژېست سره د NTAC-DSS@usss.dhs.gov برېښنالیک پر مټ په اړیکه کې شئ.
- **د ګواښ د ارزونې د راپور ورکولو د ملي دفترونو** د ماسټرۍ د ټرېنېنګ پروګرام د تخنیکونو د زده کړې او همدارنګه د چلندي ګواښ د ارزونې او مدیریت (BTAM) د غوره کړنلارو په برخه کې فدرال، ایالتي، سیمه ئیز، قبیلوي او قلمروي (F/SLTT) شریکان تصدیق کوي. په دې اړوند لا زیات معلومات کولای شئ د کورنۍ امنیت د ماسټرۍ د ټرېنېنګ د پروګرام په پاڼه (dhs.gov) کې وموئ.
- **د کورنۍ امنیت وزارت** د ویسکانسین د عدلیې له اداري او د ویسکانسین د عامه زده کړو له اداري سره په ګډه د عامه وګړو لپاره د «هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي د اصولو» تر عنوان لاندې د یو برېښنايي ښوونیز لارښود په جوړولو کې مرسته کړې ده. مهرباني وکړئ دغو موادو ته د لاسرسي په موخه Foundations of Targeted Violence Prevention | Homeland Security (dhs.gov) ته مراجعه وکړئ.

## له ملاتړیزو خدمتونو سره نښلول

ایالتونه باید د هغو کسانو لپاره چې د تاوتریخوالي ګواښ کوي د مداخلوي خدمتونو د وړاندې کوونکو شبکه جوړه کړي.

کې له تاوتریخوالي TVTP د ایالتي حکومت چارواکي باید ملاتړ وړاندې کوونکو ته په څخه مخنیوي ته اړوندې دندې ووایي. ایالتونه باید د هغو کسانو لپاره چې د تاوتریخوالي ګواښ کوي د تاوتریخوالي د مخه نیونکو خدمتونو د وړاندې کوونکو شبکه جوړه کړي – څو هم د هغو کسانو مخه ونیسي چې د هدفمند تاوتریخوالي ګواښ کوي او هم د هغو کسانو چې غواړي په ورته مسیر ګام واخلي. ایالتونه باید د موجودو ملاتړیزو خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې د لارې د پېژندونو، د خدمتونو د وړاندې کوونکو د مسلکي ودې د ارتقا او همدارنګه د اړتیا لرونکو افرادو لپاره د سره مرسته وکړي.CP3خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه د نوو چینلونونو د جوړولو په برخه کې له

ایالتونه باید د خدمتونو وړاندې کوونکو ته داسې یو سیستم رامنځته کړي څو هغوی وکولای شي خدمتونو ته اړتیا لرونکو ته لاسرسی وموي او همدارنګه د ټکنالوژۍ په کارولو سره د ملاتړیزو خدمتونو اړوند د معلوماتو په راغونډولو د خدمتونو له رسېدو ډاډ ترلاسه کړي. مداخلوي خدمتونه باید د هغو افرادو لپاره هم لاسرسي وړ وي چې په انګریزي ژبه باندې د دویمې یا بهرنۍ ژبې په توګه خبرې کوي. سربېره پر دې هر فرد ته د کافي پام په موخه ایالتونه باید په خپل ملاتړیز پلان کې د کېسونو د مخته وړونکو لپاره ټرېنېنګونه په پام کې ونیسي څو وپوهېږي څه وخت او څه ډول د قانون د تنفیذ کوونکو په څېر نور متخصصین په چارو کې ورګډ کړي.

د ملاتړيز پلان بېلګې په لاندې ډول دي:

- له لګښت پرته/کم لګښت لرونکې رواني روغتيا
- د مجرمينو له بانډ سره مبارزه
- له کرکې سره مبارزه/له تعصب سره مبارزه
- انلاين خونديتوب
- د جرم بياځلي تکرار/مجدد ادغام
- په وسلې سره له تاوتريخوالي مخنيوی
- د عاطفي شريک له تاوتريخوالي مخنيوی
- له ځان وژنې مخنيوی
- انلاين انتقادي تفکر/رسنيز سواد

## د همکټو شامل کول

ټيم بايد له تاوتريخوالي څخه د مخنيوي ټولې هغه موجودې هڅې چې د بنسټونو، خصوصي شرکتونو او ايالتي يا TVTP محلي سازمانونو له خوا کېږي بيا کتنه پرې وکړي څو د هغو بشپړوالی او نه بشپړوالی تشخيص کړي او د همکارۍ فرصتونه ومومي. په دغو کې کېدای شي له وړاندې موجود د مخنيوي پروګرامونه يا هم مخنيوي کوونکې سيمه ئيزې شبکې شاملې وي (د بېلګې په توګه، له ځان وژنې مخنيوی يا د مجرمو ډلو له چارو څخه مخنيوی) څو له تاوتريخوالي څخه د مخنيوي له ټيم بايد هغه همکټي هم وپېژني چې کولای شي په محرومو ټولنو کې د TVTPيوې هدفمندې ستراتيژۍ سره همغږي شي. د مخنيوي د خدمتونو په وړاندې کولو کې له بنسټونو او ايالتي سازمانونو سره مرسته وکړي.

ټيم بايد د هغو سازمانونو او همکټو اړخونو وړتياوې او محدوديتونه وپېژني چې هوډ لري له دوی سره مرسته وکړي دTVTP همدارنګه هغه دندې او مسئوليتونه هم ومومي چې کېدای شي يو همکټی اړخ يې له خپلو سنتي دندو او مسئوليتونو بهر ټيم بايد ډاډمن شي چې مسئوليت يوازې TVTPترسره کړي څو د مخنيوي په ماموريت کې د هغو ملاتړ په غوره بڼه وشي. د يوې ډلې يا مسلک ته اړوند نشي.

ټيم بايد له بالقوه همکټو سره د تعامل پر مهال د هدفمند تاوتريخوالي او له ترهګرۍ څخه د مخنيوي اصطلاحات دTVTP له دغې موضوع څخه د عامه اګاهۍ د لوړاوي په موخه تعريف کړي او بايد په پام کې ولري چې د قانون له نافذ کوونکو پرته يو شمېر همکټي کېدای شي له دغې موضوع سره بلد نه وي. بالقوه همکټي بايد د هدفمند تاوتريخوالي شمېرې، د دوی پر ټيم بايد په ټول ايالت کې له TVTPوضعيت باندې د هغو د اغېز ډول او په دغه موضوع کې يې د ښکلتيا لامل درک کړي. د ستراتيژۍ کې د همکټو اړخونو له مسئوليتونو او TVTPسيمه ئيزو ټولنو سره همکاري وکړي څو اړتياوې تشخيص او خلک په دندو خبر کړي. دغه ټيم بايد د همکټو پوښتنو او اندېښنو ته د ځواب ويلو چمتوالی هم ولري.

دغه فعاليت د دې پر ځای چې يوازې د قانون د تطبيق او د ستراتيژۍ د موثرې اجرا له مخې وشي بلکې په ټول ايالت کې د ګڼ شمېر سازمانونو، په بېلابېلو کچو حکومتي ونډو او همدارنګه دولتي او خصوصي مشارکت ته اړتيا لري. دغه ستراتيژي څو اړخيزې همکارۍ، د هڅو ساده کولو او د منابعو او خدمتونو شريک کولو ته اړتيا لري.

| بالقوه شريکان دTVTP | | |
|---|---|---|
| **فدرال** | **ایالت** | **سیمه ئیز/انجوګانې** |
| د کورني امنیت وزارت | روغتیايي او بشري خدمتونه | ټولنیز سازمانونه |
| د فدرال څېړنو اداره | د عامې روغتیا بنسټونه | د عقیدې پر بنسټ سازمانونه |
| د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز | د قانون نافذ کوونکي | غیر انتفاعي سازمانونه |
| له ترهګرۍ سره د مبارزې ملي مرکز | لویه څارنوالي | ښوونځي او پوهنتونونه |
| د روغتیا او بشري خدمتونو وزارت | قانون جوړونکي | د چلندي روغتیا د خدمتونو وړاندې کوونکي |

*منبع: د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د والیانو کړنلار، د والیانو ملي ټولنه*

# ستراتیژي بېلګې دTVTP ایالتي


څخه دوه کلنۍ بودیجه ترلاسه کړه څو له ایالتونو سره د هدفمند CP3 د غوره فعالیتونو مرکز له NGAپه 2020 کال کې د د پالیسۍ جوړولو په اکاډمۍ کې له هدفمند NGAتاوتریخوالي اړوند ستراتیژۍ په جوړولو کې مرسته وکړي. څو ایالتونو د ستراتیژۍ جوړې او تطبیق وړ وګرځېدې. په TVTPتاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه ګډون وکړ چې له امله یې څو ایالتي ستراتیژیو مثالونه راوړل شوي دي.TVTPلاندې کې په متحده ایالاتو کې په ایالتي کچه د

## 2023له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د نیویارک ایالت ستراتیژي




دغه ستراتیژي د عامې روغتیا له یوې څو اړخیزې کړنلارې څخه د ګڼ شمېر همکټو د شامل کولو په موخه ګټنه کوي څو د ګواښونو عوامل په غوره توګه درک او د هدفمند تاوتریخوالي د هر ډول ګواښونو څخه مخه ونیسي. په دايمي توګه د تغیر منونکي ګواښونکي چاپېریال لپاره د نیویارک ایالت کړنلار په یوې جامعې هڅې واوښته. د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه دغه ستراتیژي له هدفمند تاوتریخوالي سره د مبارزې په موخه د دغه ایالت هڅې تشریح کوي او د دغه ایالت د کورني امنیت د پراخې ستراتیژۍ بشپړونکې ده. دغه ستراتیژي څرګندوي چې غوره ملاتړ کوونکو شریکانو ته د ایالتي بودیجې، ټرېنېنګ، لارښوونو او عملیاتي مرستې پر مټ کېدای شي په سیمه ئیزه یا ټولنیزه کچه پریمانه مداخله وشي. د دغه لیدلوري له مخې یې په ستراتیژیکو اهدافو او مقاصدو کې دغه موارد شامل دي؛ الف) د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي روزنه، ب) له همګټو لورو او عامو وګړو سره د معلوماتو شریک کول، او ج) د هدفمند تاوتریخوالي د له منځه وړو او په بالقوه ډول د هغو د اغېز د کمښت په موخه له اغېزمنو پروګرامونو او نوښتونو ګټنه.


## له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د ایلینوس ایالت ستراتیژي، له وړکتون – ۱۲ ټولګي او لوړو زده کړو پوري




[له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د ایلینوس ایالت ستراتیژي](#) د هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي فعالیتونه د ټولو دولتي سازمانونو او همګټو ترمنځ همغږي کوي چې په دغو کې سیمه ئیز حکومت، خصوصي سکتور، ټولنه او ګړیز شریکان شامل دي. ایلینوس د مخنیوي د پروګرامونو د همغږۍ او د مشارکت د رامنځته کولو په موخه داسې کړنلار وړاندې کوي چې پر مټ يې د مخنیوي هغه منابع له ټولنو سره شریک کېږي چې د هدفمند تاوتریخوالی له ترسره کېدو وړاندې د ټولنې اړتیاوې پوره کولای شي. دغه هڅه په ټول ایلینوس ایالت کې د ځانګړو موضوعاتو متخصصین سره راغونډوي – د رواني روغتیا، زده کړو او نورو ټولنیزو پروګرامونو څخه – څو د عامه خوندیتوب له بنسټونو او همدارنګه نورو ایالتي او فدرال بنسټونو سره همکاري وکړي. د دغې ستراتیژۍ موخه د ټولنې پر بنسټ له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي د منابعو پیاوړتیا ده؛ ابتدايي، ثانوي او دریمې مخنیوی؛ د لوړو زده کړو او له وړکتون څخه تر ۱۲ ټولګي BTAM ټیمونه؛ او همدارنګه د منطقوي ټولنو پر بنسټ د BTAM ټیمونو تاسیس او د هغو د وړتیاوو خوندیتوب.

د ایلینوس ستراتیژي له 2024-2028 پورې د کورني امنیت له موخو او مقاصدو سره همغږې ده څو فعاله پاتې شي او د بدلون په حالت کې امنیتي ننګونو ته ځواب ویونکې وي، همدارنګه یوه جامعه او راتلونکې ته پام لرونکې اړانه وړاندې کړي.

## 2022 له هدفمند تاوتریخوالي څخه د مخنیوي په موخه د هاوايي ایالت ستراتیژي




د هاوايي ایالت د هاوايي د عامه خوندیتوب په موخه د هدفمند تاوتریخوالي په ځانګړې توګه د ټولیز هدفمند تاوتریخوالي ګواښونو ته د دوامدارې رسیدګۍ په برخه کې د اضافي دولتي منابعو تخصیص ته فوري اړتیا تشخیص کړې.

ایالتي حکومت [د ایالت په کچه ټولن شمولې ستراتیژۍ](#) ته د اړتیا وړاندوینه کړې څو په ټولو ټولنیزو حوزو کې د هدفمند تاوتریخوالي له هر ډول اشکالو سره اغېزمنه مبارزه وکړي. د هاوايي د کورني امنیت اداره د دغې هڅې رهبري کوي څو د هدفمند تاوتریخوالي داسې یوه جامعه ستراتیژي رامنځته کړي چې د ټولنې پر بنسټ وي او په کې د معاصرو عملیاتي کړنلارو او چارو څخه کار اخیستل شوی وي. دغه ټول شموله TVTP ایالتي ستراتیژي په ارتباطاتو، همکاریو او چلندي مداخلو/د چلندي ګواښونو په ارزونې کې ریښه لري

## پایله

ستراتیژي د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ د ګواښونو پر وړاندې د ټولنې او افرادو د خوندیتوب په موخه یوه TVTPایالتي ستراتیژي چې د عامې روغتیا پر بنسټ کړنلارې کې ریښه لري په څو اړخیزې همکارۍ او TVTPجامعه اړانه ده. ایالتي ټیمونو، د معلوماتو د شریک کولو BTAMهمدارنګه د مدني حقونو، مدني آزادیو او خصوصي حریم په ساتنې ټینګار کوي. د د میکانېزمونو، زده کړو، ملاتړیزو سیسټمونو او اداره کوونکې جوړښت سره د ارتباط د اساسي اجزاوو په تطبیق کولو سره ایالتونه په همهاله بڼه د عدم تشدد د کلتور په پیاوړي کولو او له تاوتریخوالي څخه په مخنیوي کولای شي د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ له پیچلې مسئلې مخه ونیسي.

په هڅو کې د ټولو TVTPد مخنیوي دغه منبع د ایالتي ادارو، د قانون نافذ کوونکو بنسټونو، ټولنیزو رهبرانو او همدارنګه د همګټو اړخونو د جوړښت او د هغو اړوند د لارښوونو د وړاندې کولو په موخه طراحي شوې ده. ایالتونه د ګډې همکارۍ او همدارنګه د دغې کړنلارې په منلو سره کولای شي د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي او همدارنګه د خپلو ټولنو د هوسایني او امنیت په برخه کې خپلې وړتیاوې زیاتې کړي.

# اضافي منابع

) د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي او CP3د کورني امنیت د وزارت د مخنیوي او همکاریو د پروګرام مرکز ( د هغو د کمښت په موخه یو لړ منابع وړاندې کوي. په دغو منابعو کې له ساحوي کارکوونکو سره تخنیکي مرستې، مالي مرستې، ټرېنېنګونه او روزنیز مواد شامل دي چې موخه یې ستاسو د ایالت خوندي ساتل دي.

**د مخنیوي سیمه ئیز همغږي کوونکي** په ایالتي او سیمه ئیزه کچه له تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په برخه کې له هدفمندو هڅو ملاتړ کوي. هغوی معلومات شریک کوي، ټرېنېنګونه وړاندې کوي او د هغو ټولنیزو شریکانو د شبکې په جوړولو کې مرسته کوي چې کولای شي د مخنیوي په هڅو کې ونډه واخلي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.dhs.gov/cp3 له یو منطقوي همغږي کوونکي سره د CP3ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ او یا هم د مخنیوي اړوند د برېښنالیک پر مټ اړیکه ونیسئ.cp3field@hq.dhs.gov

**د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په موخه د مالي مرستو پروګرام** ایالتي، سیمه ئیز، قبیلوي او قلمروي اداروي جوړښتونو، غیر انتفاعي او د لوړو زدکړو بنسټونو ته بودجه ورکوي څو هغوی د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي په برخه کې خپلې وړتیاوې رامنځته او یا هم زیاتې کړي. د لا زیاتو معلوماتو او یا هم د غوښتنې په موخه www.dhs.gov/tvtpgrants ته مراجعه وکړۍ او یا هم په دغه برېښنالیک terrorismprevention@hq.dhs.gov د مالي مرستو له وړاندې کوونکي ټیم سره اړیکه ونیسئ.

د فدرال منابعو د تسوېې مرکز دی چې په ټول هېواد کې (Prevention Resource Finder) د مخنیوي د منبع موندونکی د هدفمند تاوتریخوالي او ترهګرۍ څخه د مخنیوي او په دغه برخه کې د کاري شریکانو د چمتو کولو په موخه طراحي شوی دی. د هغو په وېب پاڼه کې په موجودو منابعو کې له ټولنې څخه د ملاتړ منابع، د مالي مرستو فرصتونه، د معلوماتو د شریک کولو اډانه، د شواهدو پر مټ څېړنې او د هدفمند تاوتریخوالي په ځانګړې توګه د کرکې پر بنسټ د هدفمند تاوتریخوالي د ګواښ د کمښت په موخه روزنیز فرصتونه شامل دي. تاسو کولای شئ لا زیات معلومات په: د مخنیوي د منبع موندونکی | کورني امنیت Prevention Resource Finder | Homeland Security (dhs.gov). پیدا کړئ.

**ستاینه او مننه:** د مخنیوي د پروګرامونو او مشارکت مرکز (CP3) له ټولو هغو شریکانو او کارپوهانو څخه ستاینه او مننه کوي چې د مخنیوي په دغه منبع کې یې د وړاندې کړو معلوماتو اړوند فیډبک وړاندې کړی دی.